ليکوال: شريف بهاند
۰۱/اپريل ۲۰۰۹م

# ناڅرګند څواک د افغان ناورين لامَل

په افغانستان کې جګړه ورځ په ورځ لا پسې ستغريږي او خونړي بڼه غوره او په هغو کې د افغانانو تاندي هيلي سوځول، ارمانونه ور څخه اخيستل کيږي، دالانونه او کلاګاني وراني، درمندونه ايري، کلي او کورونه، معنوي او مادي جوړښتونه ويجاړ او په خاورو بدليږي. خو څومره چې د شوبلو او د توغنديو د ډزو، د الوتکو د بمباريو او په اصطلاح د ولسواکۍ او د بشر د حقوقو د ساتندويانو د دا ډول او نورو ناروا کړو وړو له امله د هيواد ناورين ژور کيږي، هومره په دې ورځو کې د هغه په اړه د نړيوالو کنفرانسونو او غونډو **بازار هم توديږي. له همدې امله** هر افغان بچی پوښتي:

- د چا او د څه لپاره جګړه؟
- د چا له خوا او د کومو موخو د ترلاسه کولو لپاره کنفرانسونه او غونډې؟ په افغانستان کې د سولې او امنيت د ټينګښت لپاره؟ او که د هغو د جوړونکو او يا د ناڅرګند څواک او يا څواکونو د ګټو د ترلاسه کولو په موخه؟

دې پوښتنو ته د ځواب لپاره ښه به دا وي، يو څه شأ ته نظر واچوو او د دغه ناورين زړی او همدارنګه د هيواد د اقتصادي – سياسي وروسته پاتيوالی لامَل، چې تر زياتې اندازې پورې د وخت د سترو څواکونو پوځي – سياسي سيالي وي، راوسپړو او د تيرو او اوسنيو جګړو د بنسټيزو موخو لامَلونو روښانه کړو. څکه د المان د پوځ د جنرال، کارل فون کلاوزوېټز Carl von Clausewitz په اند: جګړه په خپله د " ... سياست دوام دی، خو له بلې لارې". يا د همدې پوځی استاد په وينا، له "جګړې څخه د يوې وسيلې په توګه کار اخيستنه د سياسي موخو ترلاسه کول دي" [۱]، چې دغه ستراتيژيکي موخې د وخت له اقتصادي – سياسي شرايطو او د بيلا بيلو سترو څواکونو له ستراتيژيو سره بدلون موندلې او مومي.

د افغان ناورين نوغی:

د نړۍ مخکښو هيوادونو تل هڅه کړې، له ترلاسه شوې برترۍ څخه په ګټې اخيستنې سره خپله شتمنې زياته او واک ته پراختيا ورکړي. خو د دغو موخو په تر لاسه کولو کې کله نا کله دوې له لوړو او ژورو سره هم مخامخ شوې. د بيلګې په توګه ان په لرغون پير کې، له ميلاد څخه ۳۳۳ کاله مخکې د ستر سکندر ډير پياوړی پوځ د نړۍ د سيمو په لاندې کولو کې، په تيره هند ته د رسيدو په لاره، د افغانستان د لويديزې سيمې په شأ و خوا کې له ستر مقاومت سره مخامخ شو. د راويانو د کيسو له مخې نوموړي ته لارښوونه وشوه، چې دغه مقاومت يا په بله وينا جړه غوټه Gordische Knoten د خپلې تورې په ګذار سره خلاصه کړي [۲]. د تورې له ګذار سره سره بيا هم نوموړي ونشو کړی، د دې سيمې له لارې ځان هند ته ورسوی. نو څکه نوموړي دې اړ شو، چې د منځنې اسيا لاره غوره او بيا د اوسنی افغانستان د شمال له پلوه پر هند يرغل او هغه تر خپل نيواک لاندې راولي. په دغې جګړه کې که څه هم سيمې ته زښت زيات مادي او معنوي زيان ورسيد، خو هغې دوه تلپاتې ځانګړتياوې روښانه کړې :

- له نيواک او يرغلګرو کرکه او د هغو په وړاندې د مقاومت دود او
- له سياسي – پوځي پلوه د سيمې ستراتيژيک ارزښت.

په نوی پير په تيره بيا په ۱۷ او ۱۸ پيړی کې د بشري ټولنې له پرمختياوو په ځانګړې توګه د اروپا له معجزې سره سم، په لويديزې نړۍ کې ځينې سياسي – اقتصادي څواکونه رامنځته او دوې د وخت د شرايطو په پام کې نيولو سره په خپلو ټولنو کې ټولنيز بدلونونه د عمل په ډګر کې پلي کړل. امريکايي ليکوال پل کنيدی په دې اړه وايي:

"په ټوليزه توګه د لويديز رامنځته کيدل، د اقتصادي بدلونونو، د سوداګريزو څانګو د رامنځته کيدو، د نوو انديښنو د راخوتيدو ... او د توپ او بيړيو په جوړولو کې د يو لړ برياوو او لاسته راوړنو ... پايله وه، چې اروپايي پيښلټو (ماجراجويانو) ته دا څواک ور په برخه کړ، پر نورو سيمو او وګړو برې او واک ترلاسه کړي. ... [سربيره پر دې] دغو کړو وړو يو ډول سيالي د ټولواکو، دولتونو او مذهبونو ترمنځ د نوو امپراتوريو د رامنځته کولو لپاره راوپاروله ..."[۳]، چې د دوي تر منځ تر ټولو مخکښ د بريتانيا هيواد و. څکه انګريزانو د نورو اروپايي هيوادونو په پرتله د صنعتي انقلاب تر څنګ په خپل اداری او مالی سستيم کې سمون رامنځته کړ. سربيره پر دې د بريتانيا پريوت، د دولت او څارګر سازمان ګډه همکاری، د وګړو ملی روحيه او د ټولنيزو بدلونونو په وړاندې د دوي نه مقاومت، هغه عوامل وو، چې انګريزانو ته يې په جګړه ييز او سياسي ډګر کې برياووي ور په برخه او وکولی شول د يوې سترې امپراتورۍ بنسټ کيږدي، چې د دوي د امپراتورۍ بنسټ په دغو درې ستنو ولاړ و:

- د بريتانيا واکمنې پرسمندري لارو او له هغه سره جوخت په نړيوالې سوداګرۍ کنترول؛


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

- د نړۍ پر مالي بازار كنترول؛
- او د ګټې اخیستنې وړ اومه توکو د زیرمو کنټرول [۴].

له دغو شونتیاوو څخه په ګټې اخیستنې سره انګریزانو وکولی شول، د نړۍ ډیرې برخې، په تیره د طبیعي او کرهنیزو توکو له پلوه بډایې سیمې، تر خپل نیواک لاندې راولي او په هغو کې سوداګریز شرکتونه او مرکزونه پرانیزي، د بیلګې په توګه دا ډول سوداګریز مرکزونه په سویل ختیزه افریقا، امریکا او اسیا کې وو، چې د هغو تر ټولو مهم د ختیز هند سوداګریزه کمپنی وه، چې انګریزانو هغه د سرورزو خول Juwels der Krone په نامه یادوله. د دغو سوداګریز مرکزونو بې سارو ګټو د نورو اروپایي ځواکونو رخه راوپاروله او هغوي هم په دې هڅه کې شول، چې بریتانیا سره د سیالۍ ډګر ته ورودانګي.

خو له بریتانیا سره په اروپا کې د هغه د ستر او په پرمختللو وسلو سمبال پوځ، په تیره سمندری پوځ او ځانګړی پریوت له امله د نورو اروپایي ځواکونو سیالي ګرانه بریښیده، نو دوي په دې لټه کې شول، په ګډپوهاوی سره نوي ټلوالي جوړې، خپل منځي شخړې اواري کړي او د نوې جګړه ییز ستراتیژی په طرحي سره انګریزان د هغوي په مستعمرو کې له ماتې سره مخامخ کړي، چې د دغو سیالۍ ډګر د اسیا په لویه وچه کې هندوستان او د هغه شأ و خوا هیوادونه وو. څکه هندوستان د خپلې شتمنۍ په لرولو او چارچاپیر هیوادونه او سیمې، د هغوي د ستراتیژیک پریوت له امله د سیالیو ډلو لپاره د ارزښت وړ وي، چې په دغو سیمو کې افغانستان د ځانګړې ارزښت لرونکی و او اوس لا هم دی. یو المانی سیاست پوه په دې اړه وایي: "که څوک افغانستان تر خپل کنټرول لاندې ولری، کولی شي، هند خپل وګټي. ... څکه دغه هیواد د سرو زرو د خول د ساتنې لپاره یو ځواکمن او اوسپنیز مورچل ګڼل کیږي" [۵]. همدا لامل و، چې د نولسمې پیړۍ دوو سترو سیاسي ــ پوځي ځواکونو، روسیې او بریتانیا د دې سیمې پر برخلیک ستره لوبه پیل کړه. څکه هر یوه ته د سیمې ستراتیژیک ارزښت روښانه و.

د بیلګې په توګه د هند د پخواني ویسرا، لارد کرزن Lord Curzen په اند: "ترکستان، افغانستان او فارس ... د سطرنج هغه داني ګڼل کیږي، چې د نړۍ د تسلط [واکمنی] لپاره وربانډې لوبې کیدای شي" [۶]. د روسیې تزار ستر پتر هم په دې ارمان و، چې قسطنطینه خپله پلازمینه او هند تر خپل نیواک لاندې راولي. څکه د نوموړي په اند: "... له هند سره سوداګری د نړیوالې هغې په مانا ده. څوک چې پر دغې سوداګرۍ لاس برۍ ولری، هغه د اروپا واکمن دی" [۷]. سربیره پر دې د یو لوړپوړی روسی چارواکی، سکوبلف Skobeleff په اند: "هر چه روسیه در آسیا مرکزی قویتر شود به همان اندازه انگلستان در هند ضعیف تر و در اروپا سهل الوصول تر خواهد شد" [۸]. دې موخې ته د رسیدو لپاره روسیې خپل سویل ګاونډیان یو په بل پسې لاندې او خپلو پولو ته یې ان د آمو سیند تر غاړې پورې پراختیا ورکړه. که څه هم لندن له یوې خوا په دې سیمه کې د روسانو دا ډول زمکنۍپراختیا ته د نظم د رامنځته کیدو او د تمدن د پراختیا په سترګه کتل او په دې اند وو، چې ښه به وي موږ په شمال کې د نیمه وحشي وګړو [کوچیانو] په ځای یو متمدن ګاونډی ولرو، چې له هغوي سره د سوداګرۍ په برخه کې راکړه ورکړه تر سره کړي شو[۹]. خو له بلې خوا انګریزانو د روسانو دا ډول سیاست خپلو ستراتیژیکو ګټو، په تیره د هند امنیت ته ستر ګواښ باله او ورته ګرانه بریښیده چې روسان دې د اسیا په چارچاپیر سوداګریزې لارې پرانیزي. نو څکه لندن دغه ګواښ ته په نغوتې سره داسې غبرګون وښود: " ... د آمو د سیند له غاړې وروسته د هند د دفاعي کرښې سیمه پرته ده. بل هر ګام وړاندې تګ له موږ سره د جګړې په مانا ده" [۱۰]. دا واقعیتونه د لویې لوبې د لوبولو ښکارندوي دي، چې د هغې موخه د کریوځمن Kreutzmann په اند، "د سرورزو د خول [هندوستان] د امنیت ټینګښت" [۱۱] او ډګر یې تر زیاتې اندازې پورې افغانستان او په تیره د هرات سیمه وه. څکه هرات له ستراتیژیک پلوه ډیر د ارزښت وړ او د روسیې د هغه وخت د لوی درستیز ګرولوف Grulew, M په وینا: " ... د یوې ستراتیژیکې درې لارې پر سر پروت دی، چې د هغې پای [د] کندهار او کابل [ولایتونه] دي، او د دې درې لارې لاندې کول د ټول افغانستان د نیواک په مانا دی ..." [۱۲]. د همدې لامَل پر بنسټ دواړې خواوې په دې هڅه کې وې، چې د خپلو سیاسي ــ پوځي شونتیاوو، دیپلوماتیکو هلو ځلو او نورو بیلابیلو وسایلو او پلمو په مرسته په تیره افغانستان، چې د هند د اوسپنیز مورچل نوم یې ترلاسه کړی، تر خپلې ولکې لاندې راولي. څکه انګریزان نه یوازې له روسانو، بلکې تر هغه زیات له افغانانو څخه په ویره کې وو. د مدراس د پوځ سیاسي اجنت، مالکولم Malcolm په دې اړه وایي: " هند باید د شاه زمان له ناځاپي او پر له پسې یرغل څخه، چې د کمپنې لپاره ډیر لګښت رامنځته کوي، وژغورل شي" [۱۳].

د همدې لامَل پر بنسټ انګریزانو پر افغانستان یرغل وکړ. خو په وطن او خپلواکۍ مینو افغانانو د خپلو توریالیو مشرانو تر لارښوونې لاندې دوی ته د ډیر ځاني او مالي زیان پر رسولو سربیره، له سختې ماتې سره مخامخ او شأ تګ ته اړ کړل. خو افغانانو له دغو بریاوو سره سره، د یعقوب خان له خوا د ګندمک د تړون په لاسلیک سره د هیواد په ختیځ کې ستراتیژیکې سیمې د ساری په توګه، د تاریخ پوه میر غلام محمد غبار د لیکنې له مخې: "علاقه کرم تا ابتدای جاجی، دره هیبتناک خیبر تا کناره شرقی هفت چاه، لندی کوتل و سیبی و پیشن را تا کوه کوژک" [۱۴] له لاسه ورکړې. په دې چل ول سره انګریزانو هغه درې لاره چې هند ته رسیده، ترلاسه کړه. او په دې هڅه کې شول، ژر تر ژره د افغانستان په حساسو او ستراتیژیکو سیمو کې خپل استازي او پوځیان ځای په ځای کړي، چې په دې توګه



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

له يوې خوا له پوځي ـ سياسي پلوه په ټول هيواد کې پر چارو لاس برى ترلاسه او له بلې خوا د روسانو کړه وړه په سيمه کې تر څارنې لاندې ونيسي.
خو د بريتانيا د برياوو دغه جشن، په ټول افغانستان کې د پاڅون او ان د دوي د ځانګړى پلاوى، سرلويى کيونارى د وژل کيدو له امله، ډير ژر په وير بدل شو. سربيره پر دې د دوي د لاسپوڅى، امير محمد يعقوب خان اوامرو ته هم چا غاړه نه ايښوده. دغې وضعې انګريزان له سترو ستونزو سره مخامخ کړل او روسيې هم د ډول پيښو څارنه او په هغو کې خپلې ستراتيژيکې ګټې ليدې او په دې اند وو، چې "... ظاهراًاين وضع براى ما نتيجه اى که طالب آن هستيم خواهد داشت يعنى رسيدن به اتحاد صميمانه اى ميان روسيه و بريتانياى کبير که براى هر دو حريف سودمند خواهد بود" (۱۵). د روسانو په اند دواړو خواوو ته د منلو وړ هوکړې (اتحاد صميمانه) څخه موخه د دواړو سترو ځواکونو تر منځ د يوې بيل سيمې Puffer State رامنځته کول و. روسى لوړ پوړى چارواکى، ګورچاکوف په دې اړه وايي: " فکر حفظ يک منطقه مانع برخورد ها بين دو امپراتورى در آسيا هميشه از نظر آلکساندر تزار، محترم و با ارزش بوده است" (۱۶). لکه څنګه چې مخکې يادونه وشوه، انګريزان په افغانستان کې له سترو ستونزو سره لاس او ګريوان وو او نه پوهيدل، چې ټول افغانستان د فارورد پاليسى fordward policy پر بنسټ د پوځي ځواک په زور لاندې او په څو برخو وويشي او که هغه د ماسترلى اين اکتيفيتى پاليسى Masterly inactivity policy له مخې يو موټى هيواد او د دواړو امپراتوريو تر منځ د يوې بيل سيمې په توګه وساتى (۱۷). د افغانستان ستونزو او د سويل په لورى د روسانو پرمختک لندن دې ته اړ کړ، چې په سيمه کې د وضعې د روښانولو لپاره له روسانو سره خبرې پيل کړي. همدا لامَل و، چې د دواړو خواوو سياستوالو او همدارنګه کارپوهانو د يوې بيل سيمې د رامنځته کولو په اړه خبرې پيل او هاند و هڅه وکړه، دا سيمه او د هغې پولې روښانه او هوکړه پر وکړي. د کريوڅمن Kreutzmann په اند" د بيل سيمې په اړه، چې افغانستان، فارس او ترکستان په کې راځي خبرې اترې او ... د هغې رامنځته کول د لويې لوبې نوغى بلل کيږي" (۱۸)، چې د دغو ديپلوماتيکو اړيکو، هلو ځلو او خبرو پايله د اسيايي کنوانسيون په نامه تړون و. دغه تړون، چې ډير ځانګيز پوهان هغه د اسيا په اړوند يو موقتى جوړښت بولى، نه يو بنسټيز حل، په ۱۹۰۷ کال کې د بريتانيا او روسيې له خوا په لاسليک سره د لويې لوبې ستر پړاو پايته ورسيد (۱۹) او اسيا د انګريز او روس پوځي ـ اقتصادي ځواکونو تر منځ وويشل شوه.

پاتى نور بيا

په دوهمه برخه کې به ولولي:
- ستره لوبه، نوي لوبغاړي او نوي موخي؛
- سړه جګړه او د هغې اغيز د هيواد په اقتصادي ـ سياسي بهير ؛
- نا څرګند ځواک، د هغه موخې او کنفرانسونه.

اخځ:


۱. Clausewitz, Carl von: Vom Kriege, siehe, in
http://www.carlvonclausewitz.de/vom_kriege_۸_٦b.php
۲. siehe, http://de.wikipedia.org/wiki/Gordischer_Knoten
۳. شريف بهاند: په شلمه پيړۍ کې د هيواد اقتصادي سياست ته يوه کتنه، وګوري: په "افغانستان په شلمه پيړۍ کې" د پوهنيز سيمينار د ليکنو ټولګه، ۱۳۷۸ ، کولن جرمنى، مخ ۲۱۴
۴. Engdahl, F. William: Mit der Ölwaffe zur Weltmacht: Der Weg zur neuen Weltordnung, Wiesbaden, ۲۰۰۳ ; S. ۸۱
۵. Dahl, Hermann Christoph: Die Rolle Afghanistans in der Weltpolitik, in: Zeitschrift für Politik, Bd. XIV, ۱۹۲۵, S. ٤٤١
۶. لوډويک اډاميک: دشلمې پيړۍ تر نيمايي د افغانستان د بهرنيو اړيکو تاريخ، ۱۳۷۸ ، پيښور، مخ، ۱۲۲ ، (ژباړن: ډاکتر نثاراحمد)
۷. Tichy, Herbert: Afghanistan. Das Tor nach Indien, ۱۹٤۰, Leipzig, S. ٥٦
۸. Pio - Carlo Terenzio: La Rivalite Anglo - Russe, en Perse et en Afghanistan, Teheran, ۱۹۸۰, S. ۱۸۲, ترجمه به فارسى: دکتر عباس آذرين
۹. siehe Ebenda, S. ۱۰۱
۱۰. Ebenda, S. ۱۰۱




افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکارى دعوت مى نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

Kreutzmann, Hermann: Vom „Great Game“ zum „Clash of Civilization“? .۱۱
Wahrnehmung und Wirkung von Imperialpolitik und Grenzziehungen in Zentralasien, in: Petermanns Geographische Mitteilungen, ۱٤۱, ۱۹۹۷/۳, Gotha, S. ۱۷۰
Grulew, M: Das Ringen Russlands und Englands in Mittel-Asien, Berlin, ۱۹۰۹, S. ۸٤ .۱۲
Tichy, Herbert: Afghanistan. Das Tor nach Indien, ۱۹٤۰, Leipzig, S. ٤۰ .۱۳
.۱٤ میر غلام محمد غبار: افغانستان در میسر تاریخ، چاپ چهارم، ۱۳۶۸ هـ . ش. ، تهران، ص. ۶۱۱
Pio - Carlo Terenzio: La Rivalite Anglo - Russe, en Perse et en Afghanistan, .۱۵
Teheran, ۱۹۸۰, S. ۱۸۳, ترجمه به فارسی: دکتر عباس آذرین
Ebenda, S. ٦٤ .۱٦
Grevemeyer, Jan-Heeren: Geschichte Afghanistans. Kolonialismus-Anarchie- .۱۷
Absolutismus, Berlin, ۱۹۸۸, S.۱۱
Kreutzmann, Hermann: Vom „Great Game“ zum „Clash of Civilization“? .۱۸
Wahrnehmung und Wirkung von Imperialpolitik und Grenzziehungen in Zentralasien, in: Petermanns Geographische Mitteilungen, ۱٤۱, ۱۹۹۷/۳, Gotha, S. ۱۷۰
Ebenda, S. ۱۷۳ .۱۹


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de